د سلام نړیوال علمي ژورنال
Salam International Academic Journal
Journal Homepage: hhttps://journal.salam.edu.af
لسم کال، شمیره ۱۷، پسرلی، کال ۱۴۰۴هـ ش

## سریزه

الحمد لله رب العلمين والصلاة والسلام على سيد الأنبياء والمرسلين و على آله وأصحابه أجمعين، أما بعد.

د سلام نړیوال علمي ژورنال دا ګڼه، د موضوعي ژورتیا، علمي ارزښت او ملي اړتیا له پلوه، یوه ځانګړې او فوق‌العاده ګڼه بلل کېږي. په دې ګڼه کې هغه علمي مقالې او څېړنې د نشر لپاره راټولې شوې دي چې د بېلابېلو څېړونکو له لوري د «بهرنیو هېوادونو ته د افغانانو کډوالي؛ عوامل، پایلې او حل لارې» تر عنوان لاندې، په ۴ د سرطان ۱۴۰۴هـ ش، چې د ۲۸ ذي‌الحجة ۱۴۴۶هـ ق سره سمون خوري، باندې په جوړ شوي علمي ـ څېړنیز کانفرانس کې وړاندې شوې وې. دا کانفرانس د افغانستان له هغو معاصرو او بنسټیزو ننګونو څخه یوې ته ځانګړې شوی و چې ټولنیز، اقتصادي، سیاسي او امنیتي اړخونه لري او د حل لپاره یې سطحي او احساساتي لیدلوري بسنه نه کوي، بلکې ژورو، مستندو او واقعي علمي څېړنو ته اړتیا لري.

بې له شکه، تحقیق او علمي څېړنه د هرې ټولنې د فکري ودې، متوازنې پراختیا او سالمې پالیسي جوړونې بنسټ جوړوي. افغانستان، چې له څو لسیزو جګړو، بې‌ثباتۍ او ټولنیزو بدلونونو تېر شوی، تر بل هر وخت زیات د علمي څېړنو، واقعي تحلیلونو او کره معلوماتو ته اړتیا لري. د هېواد د اساسي ستونزو ـ لکه کډوالي، فقر، بې‌کاري، تعلیمي ننګونې او ټولنیزې ستونزې ـ په اړه سم درک او د دې ستونزو لپاره د پایدارو حل‌لارو موندل یوازې هغه مهال ممکن دي چې پرې د علمي تحقیق له زاویې کار وشي. څېړنه نه یوازې دا چې ستونزې تشریح کوي، بلکې د حل عملي لارې چارې هم وړاندې کوي او پرېکړه کوونکو مراجعو ته دا زمینه برابروي چې خپلې تګلارې د احساس پر ځای پر شواهدو او علمي موندنو بنا کړي.

په همدې اساس، د څېړنیزو کانفرانسونو جوړول، د افکارو او نظریاتو د تبادلې، فکري همغږۍ او ملي اجماع د رامنځته کولو له اغېزمنو لارو څخه شمېرل کېږي. دا ډول کانفرانسونه د څېړونکو، استادانو، پالیسي جوړوونکو او اجرایي مسؤولینو ترمنځ د اړیکو پُل جوړوي، د نظریاتو د تبادلې زمینه برابروي، او علمي موندنې له نظري چوکاټ څخه عملي ډګر ته وړاندې کوي. د سلام پوهنتون له لوري د «بهرنیو هېوادونو ته د افغانانو کډوالي...» تر عنوان لاندې د دې علمي کانفرانس جوړېدل، د همدې مسؤلیت پالنې او علم محوره تفکر څرګندونه کوي چې غواړي ملي ستونزې د تحقیق، تحلیل او علمي مشارکت له لارې وڅېړي.

د مقالو د نشر له دې علمي مناسبت سره سم، یو ځل بیا لازم بولو چې له هغو محترمو شخصیتونو او ادارو څخه د زړه له کومې مننه او قدرداني وکړو چې د یاد کانفرانس په بریالیتوب کې یې رغنده ونډه لرلې ده. د لوړو زده کړو وزارت د محترم مقام څخه مننه کوو چې د کانفرانس د بریالیتوب لپاره یې همکاري او ملاتړ وکړ. همدارنګه په ځانګړي ډول د لوړو زده کړو د تألیف، ترجمې او تحقیق د ریاست له محترم رئیس، ښاغلي دکتور حمید الله مزمل، او د یاد ریاست له ټولو کارکوونکو څخه د کانفرانس په چارو کې د فعال ګډون او علمي همکارۍ له امله صمیمانه مننه کوو.

دغه راز د مهاجرینو او بېرته راستنېدونکو د چارو د وزارت د محترمو مسؤولینو، او د افغانستان د اسلامي امارت د بېلابېلو ادارو، چې د کانفرانس په بریالیتوب کې یې همکاري کړې ده، په خدمت کې خپلې پیرزوینې، مننه او درناوی وړاندې کوو. همداراز د لاندې درنو شخصیتونو څخه د کانفرانس په علمي او رسمي بهیر کې د فعال ګډون له امله ځانګړې مننه کوو:

مولوي حافظ محمد حامد حسیب، د لوړو زده کړو مالي او اداري معین؛ الحاج نورالدین عزیزي، د صنعت او تجارت محترم وزیر؛ شیخ‌الحدیث مولوي شهاب‌الدین دلاور، د افغاني سرې میاشتې او د بېرته راستنېدونکو د کمیسیون محترم رئیس؛ او احمدالله وثیق، د یاد کمیسیون غړی او د اولمپیک او بدني تربیت د ریاست رئیس، او نور ګڼ شمېر د پوهنتونونو استاذان، د ادارو مسؤولین، د پوهنتونونو د قدر وړ رئیس صاحبان، د رسنیو ډېر محترم استازي، محصلین، څېړونکي او ټول ګډونوال.

په دې ځای کې د کانفرانس له ټولو هغو څېړونکو څخه هم ژوره مننه کوو چې خپلې مقالې یې وړاندې کړې. دوی د څېړنې ستونزمن پړاوونه په حوصله او زغم تېر کړل، د علمي ارزونې، تصحیح او بیا کتنې څو پړاوونه یې وزغمل، او د چاپ او نشر لپاره یې اوږد انتظار هم په حوصله وزغمل. د دوی دا علمي ژمنتیا د علم او تحقیق د واقعي خدمت ځرګندونه کوي.

د کانفرانس لپاره وړاندې شوې مقالې او څېړنې په درېیو ژبو (پښتو، دري او انګلیسي) وې، چې ټولې د علمي معیارونو، اړینو تصحیحاتو او تخنیکي سمونونو له پلي کېدو وروسته، په معیاري او علمي شکل د سلام نړیوال علمي ژورنال په دې ګڼه کې نشر ته سپارل کېږي.

دلته د دې یادونه اړینه بولم چې د سلام پوهنتون له لوري د کانفرانس پر مهال د ورکړل شوې وعدې سره سم، د وړاندې شوو څېړنو د موندنو پر بنسټ یوه پالیسي ورقه ترتیب شوه او له اړوندو ادارو او د اسلامي امارت له بېلابېلو مسؤولینو سره شریکه شوه، څو د مهاجرینو په اړه د پالیسیو د جوړونې په بهیر کې ترې اغېزمنه ګټه واخیستل شي او د هېواد د څېړونکو نظریات او موندنې د عمل جامه په تن کړي.

دا ځانګړې ګڼه په داسې مهال نشر ته سپارل کېږي چې د الله تعالی په فضل او کرم سره، د سلام علمي ژورنال د لوړو زده کړو له محترم وزارت څخه د نړیوال نشر سند ترلاسه کړی او د *(RCTD-PIJR-0027-25)* شمېرې لاندې د نړیوال علمي ژورنال په توګه ثبت شوی دی. دا لاسته راوړنه نه یوازې د ژورنال لپاره، بلکې د افغانستان د علمي چاپېریال لپاره هم یو مهم ګام بلل کېږي. په دې بریا کې د سلام پوهنتون د تحقیقاتو معاونیت، د سلام نړیوال علمي ژورنال د ټیم، او په ټوله کې د سلام پوهنتون د استادانو او کارمندانو هڅې د ستاینې وړ دي. الله تعالی دې دوی ټولو ته د دې هڅو نیکه بدله په دنیا او آخرت کې ورکړي.

په همدې مناسبت، یو ځل بیا د لوړو زده کړو د محترم وزارت د تألیف، ترجمې او تحقیق د ریاست له هڅانده، مخلص او د علمي څېړنو ودې او پراختیا ته ژمن رئیس، محترم دکتور حمید الله مزمل، او د هغه له ټول ټیم څخه صمیمانه مننه کوو چې په دې بهیر کې یې له موږ سره هر اړخیزه همکاري کړې ده. الله تعالی دې د دوی هڅې په خپل دربار کې قبولې کړي.

په پای کې له الله تعالی څخه دعا کوو چې د ټولو همکارانو علمي او تحقیقي هڅې د قبول وړ وګرځوي، په افغانستان کې د څېړنو او تحقیقاتو فرهنګ لا پیاوړی شي، څېړنیزو کانفرانسونو ته دوام ورکړل شي، او د څېړونکو د ملاتړ لپاره په ملي بودیجه کې کافي او اغېزمن مالي امکانات ځانګړي کړئ شي، تر څو علمي تولید، سالمه پالیسي جوړونه او د هېواد واقعي ستونزو ته د حل لارو د موندنو او د هېواد واقعي پرمختګ هڅې لا ګړندی شي.

وسبحانک اللهم وبحمدک نشهد أن لا إله إلا أنت نستغفرك ونتوب إليك.

دوکتور مصباح الله عبد الباقي

د سلام پوهنتون رئیس او د سلام نړیوال علمي ژورنال د لیکوال پلاوي مشر